safar

# مینه

## د هر څه نه زیات د مینې په لټه کې اوسئ

### د پیل ټکی

- د ټولو نه ډېر مهربان کس چې پېژنئ، څوک دی؟ څه شی سبب شول چې هغه د ټولو نه ډېر مهربان کس خطاب کړئ؟
- اصلي نښې کومې دي چې تاسو پوهېږئ، په یو چا باندې ګران یئ؟

### بحث او خبرې

- د مور مینه ډېر وختونه تر ټولو ډېره لویه مینه بلل کیږي. څه شی دغه د مور مینه بې_ساري کوي؟
- ولې دا شان قوي، روښانه، بې_پایه مینه زمونږ دپاره جذابه او الهام بخښونکې ده؟

### کلمه وپلټئ
### (۱ برخه)

عیسی د مینې په هکله په ډېرو مواردو کې خبرې کړي. هغه څه چې هغه تعلیم ورکړ، زمونږ له درکه لوړ د مینې کولو ؤ. هغه پر صلیب باندې په خپل مرګ سره، مونږ ته د خپلې مینې فداکاري وښودله او مونږ ته یې هم بلنه راکړه چې د هغه په شان مینه وکړو.
لاندې ایتونه ولولئ:

- متی ۲۲: ۳۶-۴۰
- یوحنا ۱۳: ۳۴-۳۵
- لوقا ۶: ۳۲-۳۶

د لاندې پوښتنو په اړه د یو بل سره خبرې وکړئ:

- ستاسو په نظر ولې مینه کول ډېر لوي حکم دی؟
- تر ټولو لوی ثبوت چې مونږ د عیسی شاګردان یو، څه دی؟ ولې؟
- مونږ ته بلنه راکړل شوې ده چې له کومو کسانو سره مینه وکړو؟ عیسی له مونږه څه غواړي او څنګه خپله مینه ښکاره کړو؟

### اصلي مفکوره

د ټولو نه لوی ثبوت چې مونږ د عیسی شاګردان یو دا دی چې مونږ د یو بل سره مینه لرو. د مینې ښودل بلوغ او روحاني وده ده - ترڅو مونږ د عیسی په شان شو. څنګه چې د لوقا په انجیل کې ویل شوي دي، کله چې مونږ د یو بل سره مینه کوو، مونږ ښیو چې د خدای اولادونه یوو.
نو ځکه، زمونږ مقصد باید د هر شي نه زیات دا وي چې تل د مینې په لټه کې واوسو.

### کلمه وپلټئ
### (دوهمه برخه)

اول قرنتیان ۱۳ فصل ولولئ.

- په ۱-۳ ایتونه کې څه ځانګړتیاوې او یا وړتیاوې د پولس له نظره بې له مینې کول بې_معنی دي؟
- په معمولي توګه، کوم یو له دې ځانګړتیاوو او یا وړتیاوو څخه د ټولو نه زیات ارزښمنې دي؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- ولې دا جمله د پولس سمه ده چې پرته له مينې دا ځانګړتياوې او يا وړتياوې بې_ګټې دې؟

لاندې لستونه د ۴-۷ ایتونو څخه اخستيل شوي دي. دا په کراره ولولئ او په نظر کې ونيسئ چې د عيسی مينه کول زمونږ دپاره تر ټولو غوره مثال دی.

- مينه صبر او زغم دی.
- مينه مهرباني ده.
- مينه حسد نه کوي.
- مينه فخر نه خرڅوي.
- مينه کبر او غرور نه لري.
- مينه بد چلند نه کوي:
- مينه خپله ګټه نه غواړي.
- مينه په اسانی سره نه په قهر کيږي.
- مينه په زړه کې دښمني نه ساتي.
- مينه په بدۍ نه خوشحاليږي.
- مينه په حقيقت خوشحالي کوي
- مينه هر څه زغمي.
- مينه تل باور لري.
- مينه تل هيله منه ده.
- مينه په هر حالت کې ثبات لري.
- د عيسی مسيح د مينې له کومو ځانګړتياوو څخه چې دستاسو د پاره دي، زياته مننه کوئ؟
- د ۴: ۱۹ يوحنا سره سم، مونږ کولای شو د نورو سره مينه وکړو، ځکه عيسی لومړی له مونږ سره مينه وکړه. تاسو په خپله څو شيبې د مينې د ځانګړتياوو د ليست سره سم، ارزونه وکړئ. په کومو حالتونو کې تاسو اړتيا لرئ چې زيات د عيسی په مينه کې د هغه په شان شئ؟

## همدا اوس په ګډه تمرين وکړئ.

ايا اوس څوک شته چې د هغه سره مينه کول ستاسو دپاره ستونزمن وي؟

- د پورتنی ليست سره سم، په کومو حالاتو کې تاسو نه شئ کولای خپله مينه هغوی ته ښکاره کړئ؟
- څنګه کولای شئ د هغوی سره مينه وکړئ؟
- پرته له انتظاره، سم دلاسه کوم ښه کار کولای شئ د هغوی دپاره سرته ورسوئ؟
- يوه دعا وليکئ چې ستاسو په وړاندې د هغه د مينې د مختلفو ځانګړتياو لپاره د عيسی څخه مننه کوي او هغه ته بلنه ورکړئ چې تاسو پدې برخه کې نور هم د هغه په څېر کړي.
  - د مثال په توګه، " څښتنه له تا مننه کوم له هغه صبر له امله چې له ما سره دې وکړ، په ځانګړي توګه چې څو څو ځلي مې لکه ستا په شان عمل ونکړ.

څښتنه له ما سره مرسته وکړه تر څو.................. صبر او زغم ولرم."

## هره ورځ خپل تمرين تکرار کړئ.

- اول قرنتيان ۱۳: ۴-۷ حفظ کړئ.
- هره ورځ د عيسی د مينې په اړخونو چې له تاسو سره يې لري، فکر وکړئ. د هرې ورځې په پيل کې د يوښه کارکولوعملي لاره غوره کړئ او هغه څوک چې په عادي حالت کې په سختی سره کولای شئ د هغه سره مينه وکړئ، ورسره مينه وکړئ.
- د يوحنا ۴: ۷-۲۱ ایتونه ولولئ.
- راتلونکي ګام ته لاړ شئ او د دې سفر د پاې ته رسولو دپاره لمانځلو ته تيار شئ. همدارنګه د يو بل د ستاينې دپاره، خپل ذهنونه تيار کړئ.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved